انجنیر سلطان جان کلیوال

۲۰۲۲/۰۴/۲۰

# راشه پسرلیه!

راشه پسرلیه اشنا، کور د انسان وګوره
دلته چی میشته دی، دغه وږي لیوان وګوره

غوښې د انسان د بچو، و خوړلی بل انسان
ته هم پسرلیه انسان شکله، پړانګان وګوره

وګوره نړۍ ته څه غوغا، څه تالا جوړه ده
باغ کی په ګو لیو، لګیدلي ګلان و ګوره

شنه قبا خوره کړه، تورخادریی له مخ لری کړه
پټ په تورځادر کی، ښکلی مخ د جانان وګوره

مونږه تیر پنځوس کلونه، ژمو کی تیر کړیدی
نن په خلاصو سترګو، دا سیزلی افغان وګوره

پریږده چی غزلې د خوښۍ او مینې و وایی
ناست د چنار څانګو کی، خاموش بلبلان وګوره

مونږ ته پسرلیه! یو توان د حرکت را کړه
پروت هره کوڅه کی، یو بی وزله افغان وګوره

مارچ/۲۰۲۲/۱۵

ایجکس – تورنتو - کانادا



برای مطالب دیگر انجنیر سلطان جان کلیوال روی عکس کلیک کنید



لطفاً مقالات خود را به این آدرس ارسال بدارید | مهرباني وکړئ خپلې مقالې دې آدرس ته ولیږئ: info@arianafghanistan.com